ولایت
۴ مخ

مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۲مه | ۶۰۹مه ګڼه


# په کابل ښار کې د جنایتونو په دوام؛

## طالبانو او حکومت د غلو او جنایتکارانو پر وړاندې د جدي مبارزې خبر ورکړی



۳

### د کابل ناامنۍ؛ چارواکي طالبانو ته کمپاین کوي

۲ مخ

### تر سولې اوږد مزل؛ څلور هغه موضوعات چې افغانان باید پرې یوه خوله شي

۲ مخ

### د سولې خبرو پر وړاندې خنډونه؛ افغان حکومت او طالبان یو بل ملامتوي

۳ مخ

## عبدالله: ښايي طالبان د راتلونکي حکومت په تشکیل کې د پام وړ نفوذ ولري

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله په نوي ډیلي کې له اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس سره په تازه مرکه کې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو ته په اشارې ویلي، وضعیت ته په کتو د ټرمپ د دې اعلان په اړه ډېر څه نه شي ویلی، خو په وینا یې، له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل کېدای شي پر وضعیت ناوړه اغېز ولري. نوموړي دغه راز زیاته کړې، ښايي د افغانستان د راتلونکي حکومت په تشکیل کې طالبان د پام وړ نفوذ ولري او دا چاره د هېواد په خیر ده، ځکه د ده په خبره، افغان دولت به له هغه وروسته له نورو هېوادونو سره هم اړیکې جوړې او پیاوړې کړي.

عبدالله زیاته کړې، په هېواد کې سراسري بشردوستانه اوربند اړین دی، څو نړیواله ټولنه وکولی شي په افغانستان کې کلیدي مسایلو لکه فساد، د نظامي بودجې کمښت او نورو ستونزو ته په اسانۍ رسېدنه وکړي. دا په داسې حال کې ده چې له نږدې یوې میاشتې راهیسې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د سولې بین الافغاني خبرې روانې دي، خو په دغو خبرو کې تر دې مهاله ښکاره پرمختګ نه لیدل کېږي. په ورته وخت کې د سولې دواړه مذاکراتي ټیمونه بیا وايي چې دوی هڅه کوي چې د سولې خبرو کړنلاره نهایي کړي او له هغې وروسته به پر اختلافي مسایلو خبرې پیل کړي.

## مشرانو جرګه: حکومتي چارواکي د غفلت او ناغېرۍ له کبله د جنايي جرمونو په مخنیوي کې پاتې راغلي




۵ مخ

## دایکنډي

په دې ولایت کې د یوه خصوصي پوهنتون تر څنګ، څلور شپنی لیسې، پنځه د کرنې او حسابداری انسټیټیوټونه او د ۱۹۰ لیسو په ګډون، ۳۳۹ منځنۍ او لومړني ښوونځي فعالیت لري.



## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د انګورو حاصلات ۹۸۰ زره متریک ټنو ته رسېدلي



کرنې وزارت وايي، روان کال په ټول هېواد کې د انګورو حاصلات ۹۸۰ زره متریک ټنو ته رسېدلي دي.
د کرنې او مالدارۍ وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي چې په کلنۍ ډول افغانستان له دې درکه ۱۸۸ میلیونه ډالره عاید ترلاسه کوي. نوموړي دغه راز زیاته کړې چې په تېر لمریز کال کې د انګورو د حاصلاتو کچه ۸۷۰ زره متریک ټنو ته رسېده.
هرات، پروان، کندهار، کابل، غزني، کاپیسا، بلخ، جوزجان، فاریاب، کندز، پکتیا او پکتیکا هغه ولایتونه دي چې پکې د انګورو حاصلات زیات شوي او د دې تولید راټولولو و بسته‌بندۍ زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره کړې ده.
د یادونې ده چې د افغانستان انګور په نړیوال بازار کې هم ښه نوم لري او هر کال په زرګونو ټنه انګور بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي چې پر بزرګرانو سربېره، یوه زیاته اندازه عاید یې د دولت ملي بودجې ته هم ځي.

## عطاالله افغان: حوزۀ چهارم امنیتی شهر لشکرگاه بدست طالبان سقوط کرده است



شورای ولایتی هلمند، از سقوط حوزۀ چهارم امنیتی شهر لشکرگاه بدست طالبان خبر می‌دهد.
عطاالله افغان، رئیس شورای ولایتی هلمند می گوید که پس از نبردهای سنگین، حوزۀ چهارم این شهر لشکرگاه بدست طالبان سقوط کرد و نبردها تاکنون هم ادامه دارند.
آقای افغان در این باره بیان داشت: «حوزۀ چهارم شهر [لشکرگاه] یا منطقۀ باباجی بدست مخالفان مسلح دولت افتاده‌است و نیروهای امنیتی افغان عقب‌نشینی کرده‌اند و در مربوطات چاه انجیر که در جوار منطقۀ باباجی است، آن‌جا جنگ جریان دارد.» این در حالیست که از چند روز به اینسو، بخش‌هایی از هلمند به‌شمول حوزۀ چهارم امنیتی لشکرگاه، منطقۀ چاه انجیر، ولسوالی نادعلی و جادۀ عمومی ۶۰۱ لشکرگاه، گواۀ نبردها میان نیروهای امنیتی و طالبان بوده‌اند.
از روز شنبه به اینسو، شاه راه عمومی لشکرگاه - کندهار هم به روی ترافیک بسته‌است. باشنده‌گان هلمند با ابراز نگرانی از رسیدن جنگ به دروازه‌های لشکرگاه، می گویند که تمامی راه‌ها و جاده‌های عمومی پیرامون این شهر بسته شده‌اند. عبدالحق ځواکمن، فعال مدنی در هلمند بیان داشت: «اخیراً وضعیت امنیتی در هلمند بسیار خراب است و باعث نگرانی است و مردم به‌شدت نگران استند. شاهراه ۶۰۱ بند است.» عبدالولی پتیال، فعال مدنی دیگر در هلمند نیز افزود: «از یک و نیم و دو هفته بدینسو، یک بار دیگر بر پسته‌های کمربندی لشکرگاه حمله شروع شده‌است.» آن‌چه که بی‌توجهی حکومت مرکزی به اوضاع امنیتی هلمند گفته می‌شود نیز زیر انتقاد قرار می گیرد.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، دډهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

## د کابل ناامنی؛ چارواکي طالبانو ته کمپاین کوي

په کابل کې د ناامنۍ، غلا او وژنو په تړاو د حکومت بې غوري او ناغېرۍ د دې سبب شوې، چې خلک د حکومت له کړنو ناراضه شي او ورو ورو د امنیت په برخه کې پر حکومت خپل باور له لاسه ورکړي. په دې ورځو کې په کابل کې هره ورځ د غلاوو، وژنو او شوکو پېښې دي، خو حکومت هېڅ داسې گام نه اخلي چې د دې پېښو په مخنیوي کې کارنده وي. د خلکو له پرله پسې غوښتنو، فریادونو او شکایتونو وروسته دومره ویل شوي چې په امنیت شورا کې په دې اړه بحث شوی او د کورنیو چارو وزیر د پولیسو څو حوزو ته تللی او نمایشي عکسونه یې اخیستي دي.

په کابل کې د غلاوو، وژنو او ناامنیو په اړه د خلکو شکایتونه زیات شوي، ځکه دا پېښې په بې ساري ډول زیاتې شوې دي. د کابل په هره سیمه کې هره ورځ همداسې پېښې دي او آن د پولیسو د حوزو او پوستو په څنگ کې داسې پېښې کېږي. آن داسې پېښې هم شته چې پولیس له غلو سره مرسته کوي او یا هم غله د پولیسو لخوا له نیول کېدو وروسته خوشې کېږي.

دا چاره د دې سبب شوې چې پر پولیسو او په ټوله کې پر حکومت د خلکو باور کم شي او ورو ورو د امنیت په ټینگښت کې له حکومته ناهیلي شي. ځینې خلک خو آن وایي چې د غلو مخه هغه وخت نیول کېږي چې دا ښار طالبانو ته وسپارل شي. طالبانو له همدې موقع استفاده کړې ده او په یوه خپره کړې پاڼه کې یې کابل ښاریانو ته ویلي چې د امنیت د خوندي کولو په موخه به یې ځینې گامونه واخلي. که څه هم دا سخته او آن ناممکنه ښکاري چې طالبان دې اوس په کابل ښار کې دا کار وکړلی شي، خو له شک پرته له دې چارې تبلیغاتي گټه اخلي. واقعیت دا دی چې د خلکو د سر او مال د ساتنې په برخه کې د حکومت ناغېرۍ د دې سبب شوې چې خلک پر حکومت بې باوره شي او طالبانو ته کمپاین وشي. حکومتي چارواکي او ویندویان کله کله خپل سیاسي مخالفین او څېړونکي د نظام پر تخریب تورنوي او وایي چې دوی په خپلو کړنو او څرگندونو سره نظام تخریبوي، خو واقعیت دا دی چې نظام او حکومت تر بل هر چا ډېر خپله له داخله تخریبېږي. فاسد او غله چارواکي د خلکو د امنیت په تړاو بې غوري کوي او آن ځینې یې د خلکو له وژونکو او غلو سره مرسته کوي چې دا د نظام له تخریب پرته بله هېڅ مانا نه لري او دا تخریب تر هغه ډېر خطرناک دی چې له نظام څخه د باندې کسان یې کوي.

که حکومتي مشران او امنیتي چارواکي دغه نظام ته وفادار وي، دوام یې غواړي، نو باید اوسنۍ ناغېرۍ او خیانتونه ودروي. د خلکو د امنیت په تړاو د حکومتي چارواکو کړنې په واضح ډول د نظام د تخریب او طالبانو ته د کمپاین په مانا دي. له همدې امله د نظام مخربین او دښمنان تر حکومتي چارواکو ډېر بل څوک نه دي.

# تر سولې اوږده مزل؛

## څلور هغه موضوعات چې افغانان باید پرې یوه خوله شي

ليکوالان: سفورا سمیت او مشتاق یوسفزی
ژباړن: احمدضیا حکیمیار

د وسله‌والو طالبانو او افغان حکومت لخوا ټاکل شوي پلاوي د هغو څو لسیزو جگړو د پای ته رسولو په خاطر په قطر کې مخامخ خبرې کوي، چې افغانستان یې ویجاړاو په بهرنیو مرستو تړلی هېواد گرځولی.

په دوحه کې له دغو خبرو سره جوخت د نړۍ د دې تر ټولو وژونکې شخړې حل ته لا هم ډېر واټن پاتې دی. این بي سي نیوز د طالب قوماندانانو او د افغان حکومت د خبرو له پلاوي او یوه پخواني لوړ پوړي ډیپلومات سره خبرې کړې دي، چې وگوري کوم خنډونه د شخړې د پای ته رسېدو مخه نیولی شي.

دواړې خواوې دا مهال د مذاکراتو لپاره د اصولو او طرزالعمل په اړه خبرې کوي او دا لا څرگنده نه ده چې دوی به کله پر اساسي مسلو باندې خبرې پیل کړي. د ځینو تحلیل‌گرانو د محتاطي مثبت گرایۍ باوجود، حتی په دې لومړي پړاو کې دواړو لورو د افغانستان د حکومت‌واله د څرنگوالي په هکله متضاد نظریات څرگند کړي دي.

**د واک لېږد**

که طالبان د یوه داسې لنډمهاله (موقت) حکومت پر منځ ته راوړلو ټینگار وکړي، چې په کابل کې به موجوده اداره له منځه وړي، نو دا به ستونزه راپورته کړي. په هلمند ولایت کې د طالبانو یو قوماندان NBC نیوز ته ویلي چې دا ډله به د ولسمشر اشرف غني حکومت منحل او پر ځای به یې یو لنډمهاله (موقتي) حکومت جوړ کړي او طالبان به له اوسنیو افغان مشرانو سره له کار کولو ډډه وکړي. دا خبره لا تر اوسه روښانه نه ده چې ایا دا نظر د طالبانو د سیاسي مشرانو فکر منعکس کوي او که نه؛ خو له دا ډول نظریاتو داسې برېښي چې طالبانو ته په کابل کې د امریکا تر ملاتړ لاندې حکومت د منلو نه دی.

دغه طالب قوماندان د نورو طالب مشرانو په څېر د نوم د نه ښودلو په شرط خبرې وکړې؛ ځکه چې هغه رسنیو ته د نظر ورکولو اجازه نه درلوده. په عمومي توگه، طالبانو تل د اوسني افغان حکومت مشروعیت له په رسمیت پېژندلو څخه ډډه کړې او اشرف غني ته یې د یوه گوډاگي په توگه کتلي.

په ورته وخت کې ولسمشر غني د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا دی به د لنډمهاله حکومت د منځ ته راوړلو لپاره له خپل قدرت څخه د طالبانو او یا امریکا په غوښتنه تېر شي او که نه؛ کوم ښکاره ځواب نه دی ورکړی او په دې اړه یې کومه وعده هم نه ده کړې.

ولسمشر غني د جون په میاشت کې د یوه خبریال د پوښتنې په ځواب کې په یوه مجازي کنفرانس کې ویل: «زه د افغانانو په غوښتنه کار کوم، نه د طالبانو په امر او غوښتنه.» هغه زیاته کړه چې اصلي مسئله ولسمشري نه، بلکې جمهوریت دی.

ولسمشر د خپلو خبرو په دوام کې وویل چې د لنډمهاله حکومت رامنځ ته کولو خبرې به لا تر اوسه له وخت څخه مخکې وي او زیاته یې کړه چې پخواني ولسمشر نجیب الله د خپل ژوند تر ټولو لویه غلطي دا وکړه چې له قدرت څخه یې د استعفا اعلان وکړ او همدا سبب شو چې د هغه مړی په کابل کې ولسمشرۍ ماڼۍ ته نږدې په دار وځړول شي.

**اوږدمهاله او هر اړخیز اوربند**

د افغانستان د سولې مذاکراتي ټیم غړې، فاطمې گیلاني وویل: «زموږ له نظره، په حقیقت کې اوربند تر ټولو اړینه موضوع ده. دا د افغانستان د خلکو غوښتنه ده.» آغلې گیلاني همدا راز وویل، اوربند به له دواړو لورو سره مرسته وکړي چې پر یو بل باور وکړي او د جگړې په دواړو خواو کې به د افغانستان خلکو ته د ساه ایستلو فرصت برابر کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو درې قوماندانان او په دوحه کې د طالبانو د خبرو ډلې یوه غړي ویلي چې دوی ته اوربند تر هغه پورې د منلو وړ نه دی، څو چې د سولې په خبرو کې د پام وړ پرمختگ نه وي شوی او یا حتی تر هغه چې د سولې موافقه په پوره توگه نه وي شوې.

روان حالت دا په گوته کوي چې دواړې خواوې حتی یو لنډمهاله اوربند ته له رسېدلو څخه څومره لرې دي او په عین حال کې د دې ښکارندوی دی چې طالبان له جنگ څخه چې په مذاکراتو کې د دوی یو مهم امتیاز دی، د لاس اخیستو اراده نه لري. په دوحه کې د طالبانو د خبرو د ډلې غړي وویل: «که موږ جگړه ودروو، نو بیا د خبرو په اړه څه پاتې کېږي؟»

دا په داسې حال کې ده چې د روانې ویجاړوونکې جگړې د دوام په نتیجه کې، د عامو خلکو د مړینې شمېر مخ په زیاتېدو دی. د ملگرو ملتونو د راپورونو له مخې، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۹ کلونو تر منځ، په افغانستان کې تر ۱۰۰،۰۰۰ د ډېرو کسانو د مړینې پېښې ثبت شوې دي.

جاني والش، د متحده ایالاتو پخوانی ډیپلومات او په بهرنیو چارو وزارت کې د افغان سولې پروسې لوړ پوړی سلاکار وایي: «دا یو څه د توجیه وړ ده چې په لنډ وخت کې به یو احتمالي اوربند دواړو لورو ته د اعتماد جوړونې یو ښه ممکن گام وي.» خو هغه وویل چې طالبان د تاوتریخوالي یو اوږدمهاله او هر اړخیز پای ته رسیدل به د دوی تر ټولو لوی اقدام وي، چې دوی به یې په اړه په سمدستي توگه د موافقې کولو زړه ښه نه کړي.

کله چې د طالبانو د اوربند د دریځ په اړه وپوښتل شوه، آغلې گیلاني وویل چې هغه د افغانستان د مذاکراتي ټیم هیله څرگندوي چې لومړی دې اوربند وشي. هغې زیاته کړه: «کله چې خبرې پیل شي، نو راځئ چې وگورو چې څه پېښېږي.»

**راتلونکی افغانستان**

د خبرو لپاره یو اساسي خنډ دا دی چې د مملکت نظام باید په کوم ډول واوسي. په غزني ولایت کې د طالب قوماندان په وینا: «موږ به د امارات نظام حاکم کړو.» هغه دولت ته په اشاره وویل چې یو مسلمان واکمن به یې اداره کوي او زیاته یې کړه: «یوازې دیني عالمان به د عالي شورا لپاره د غړو غوره کولو لپاره خپل نظر ورکړي. عالي شورا به بیا د اسلامي شریعت له مخې د هیواد د چارو د مدیریت لپاره تگلارې جوړوي.» هغه اسلامي قانون هغه قانون ښیي چې منبع یې قرآن کریم وي.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د سې شنبې په ورځ په یوه بیان کې وویل، اسلامي نظام خپل «تعریف او جوړښت» لري او زیاته یې کړه چې د افغانستان دولت د پلاوي لړ تر لړه دوه غړي د اسلامي او تاریخي زده کړو د نه لرلو په سبب په دې موضوع نه پوهیدل. د والش په وینا، د طالبانو جگپوړي مشرتابه په عام ډول د اسلامي امارت د نظام په اړه څه نه دي ویلي، خو په عمومي ډول یې ویلي چې باید پراخ اسلامي نظام دلته حاکم وي. دا څرگنده نه ده چې دوی دا څرنگه تعریفوي او ایا د پردې تر شا دوی لاهم په پوره ډول د اسلامي امارت سیستم د حاکمولو خیال لری او که نه.

د طالبانو ډېری استازي په دې اند دي چې ډیموکراسي په اصل کې له اسلام سره ټکر نه لري، مگر وایي چې دوی په ۲۰۰۴ کال کې له جوړ شوي اساسي قانون سره موافق نه دي، ځکه چې دوی یې [طالبان] په جوړولو کې نه وو شامل او د [بي ۵۲] بمونو په زور جوړ شوی قانون دی. دوی همدا راز ټینگار کوي چې «غربي قدرتونو دا اساسي قانون نافذ کړی.»

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون چې دولت پکې د اسلامي جمهوریت په توگه پېژندل شوی دی، د امریکا تر حملې او د طالبانو د نظام له چپه کېدو وروسته دا قانون تصویب شوی دی. د بحران نړیوالې ډلې، یوه داسې اداره ده چې د جنگونو د مخنیوي لپاره کار کوي، هغه راپور ورکوي چې د طالبانو غړي د ډیموکراسۍ په اړه متناقض نظریات لري. له بل لوري له اوسني افغان حکومت څخه په پراخه کچه تمه کېږي چې د جمهوریت پر دوام ټینگار وکړي.

افغان ولشمشر اشرف غني د جون په میاشت کې د اتلانتیک شورا او د متحده ایالاتو د سولې انسټېټیوټ لخوا په مجازي توگه جوړ شوي کنفرانس کې وویل، چې د افغان دولت د خبرو اترو ډله په دوو «اساسي نظرونو» همغږې شوې ده. هغه وویل: «یو یې د افغانستان اسلامي جمهوریت د یوه خپلواک، ډیموکراټیک او متحد جمهوریت» او دویم وگړیتوب او یا سیټيزن، هغه حقوق او مکلفیتونه چې موږ سره یوځای کوي، د وگړیتوب/سیټیزنشیپ ارزښتونه دي.»

**د ښځو حقوق**

میرمن گیلاني وویل، د افغان حکومت ټاکل شوي پلاوي ته د افغان ښځو ځانگړې غوښتنه شوې وه، چې هغوی نه غواړي د زده کړې، کار او سیاسي گډون په اړه د هغوی د حقونو په هکله جوړجاړی او مصلحت وکړل شي. هغې وویل: «دا هغه پیغام دی چې موږ یې باید په صداقت سره په مذاکراتو کې مطرح کړو او د خبرو اترو په مېز څرنگه چې اړینه ده، پرې بحث وکړو.»

له ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ کال پورې طالبانو پر افغانستان باندې له اسلامي قانون څخه په سخت دریځه توگه حکومت وکړ، چې له مخې یې ډېرې میرمنې ښوونځیو ته له تگ، دندې درلودلو او حتی له محرم نارینه پرته خپل کور پرېښودلو څخه منع شوې وې. په اوس وخت کې طالبانو ویلي چې دوی به د ښځو او نجونو پر وړاندې د پخوا په پرتله نرم دریځ غوره کړي؛ خو دقیق جزیات یې وړاندې کړي نه دي.

په هلمند ولایت کې د طالبانو یو قوماندان وویل چې طالبان به د اسلامي شریعت په رڼا کې د ښځو د حقونو ساتنه وکړي؛ خو دا یې څرگنده نه کړه چې د هغه د دې خبرې مانا او عملي شکل څرنگه دی او زیاته یې کړه چې د حکومتولۍ سیستم به یې د ایران او سعودي عربستان په پرتله «توپیر» ولري.

# د سولې خبرو پر وړاندې خنډونه؛

## افغان حکومت او طالبان یو بل ملامتوي

بي بي سي پښتو

د قطر په دوحه کې د دواړو لوریو تر منځ د خبرو له پیله یوه میاشت تېره شوې، خو تر اوسه مرکچي پلاوي نه دي توانېدلي چې د مذاکراتو لپاره پر یوه طرزالعمل هوکړې ته سره ورسېږي.

د افغان ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش وایي، طالبانو په قطر کې د سولې روانې خبرې په ټپه ولاړ حالت ته رسولې دي. نوموړي ورمه ورځ د افغانستان لویه څارنوالۍ کې د خبرو پر مهال وویل، طالبانو د مذاکراتو په طرزالعمل کې د ځینو بې ځایه موضوعات پر سر ټینگار سره د سولې خبرو بهیر په ټپه درولی دی.

بل لور ته وسله وال طالبان بیا پر افغان حکومتي مشرانو تور پورې کوي، چې په لوی لاس د خبرو پر وړاندې خنډونه راپورته کوي.

د طالبانو یوه ویاند ذبیح الله مجاهد له بي بي سي سره خبرو کې تور پورې کړ، چې د افغان حکومت مشران وخت ناوخت د سولې پروسې پر وړاندې خنډونه رامنځ ته کوي. ښاغلی مجاهد وایي: «دوی کوښښ کوي چې له دې خبرو سره بې باوري رامنځ ته کړي، ستونزې ایجاد کړي او دا ټول په دې مانا دي، چې دوی د سولې مخالف دي او نه غواړي چې دا بهیر پایله ولري یا مخکې لاړ شي.»

د قطر په دوحه کې د دواړو لوریو تر منځ د خبرو له پیله یوه میاشت تېره شوې، خو تر اوسه مرکچي پلاوي نه دي توانېدلي چې د مذاکراتو لپاره پر یوه طرزالعمل هوکړې ته سره ورسېږي.

د افغان دولت مرکچي پلاوی وایي، طالبان ټینگار کوي چې یوازې حنفي فقه او د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه باید د اختلافونو د حل بنسټونه وي، خو دولتي پلاوی غواړي چې جعفري فقه او د دولت او امریکا گډه اعلامیه هم باید په پام کې ونیول شي.

څو ورځې وړاندې د افغان دولت مرکچي پلاوي وویل، دوی د دې ستونزې د حل لپاره بدیلې تگلارې هم وړاندیز کړې دي، خو طالبان لا هم پر خپله غوښتنه ټینگار کوي.

ښاغلي دانش د افغان دولت مرکچي پلاوی د یوې بلې برترۍ په توگه یاد کړ، ځکه په وینا یې، له بېلابېلو گوندونو، قومونو، دیني عالمانو، پوهنتون استادانو، ښځو او نارینه وو تشکیل شوی دی.

د ولسمشر غني دویم مرستیال سرور دانش وویل، دولت طالبانو ته د اختلاف حل په لړ کې د قرآن، سنت او شریعت وړاندیز کړی، خو طالبان لا هم له امریکا سره پر خپله هوکړه ټینگار کوي. ښاغلي دانش وایي: «طالبان د واک تر لاسه کولو لپاره اوس شریعت هم له پامه غورځوي، چې تل یې شعار و. طالبان خلکو ته د تبعیض له نظره گوري، چې له دیني اصولو، د هېوادوالۍ او ملي ارزښتونو صریح مخالفت دی. دا له ښځو، د اسلامي مذاهبو له منونکو او لږکیو پر وړاندې ښکاره تبعیض دی.»

خو د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د ښاغلي دانش د دې څرگندونو په ځواب کې بي بي سي ته وویل: «بې له شکه چې د اسلامي امارت د جهاد دوام د امریکایي اشغال د خاتمې لپاره و او دی، دا سمه ده چې بهرني ځواکونه د ټرون له مخې له افغانستانه وځي، ولې د اسلام حاکمیت زموږ ارمان او هدف دی او ترڅو چې دا هدف لاس ته نه وي راغلی، ټول مجاهدین جهاد ته ژمن دي او د دې لوړ هدف د تر لاسه کولو لپاره جهاد مشروع دی.»

تاوتریخوالی د چا لخوا ډېر شوی؟

افغان دولت تور پورې کوي چې طالبانو د سولې خبرو له پیل سره سم جگړې ته زور ورکړی او دولتي ځواکونه یوازې په دفاعي حالت کې دي، خو طالبان دا ادعا ردوي.

ذبیح الله مجاهد وایي، دوی په لویو ښارونو کې بریدونه نه کوي، د سیمو او پوځي مرکزونو نیولو هڅه نه کوي. نوموړي پر حکومتي مشرانو تور پورې کړ، چې له دوی د سیمو نیولو لپاره یې عملیات پیل کړي دي.

د وږي میاشتې په ۲۲مه د افغان دولت او طالبانو تر منځ د قطر پلازمېنه دوحه کې خبرې پیل شوې، چې په پرانیستغونډه کې یې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو تر څنگ، ځینو افغان چارواکو هم برخه درلوده.

# په کابل ښار کې د جنایتونو په دوام؛

## طالبانو او حکومت د غلو او جنایتکارانو پر وړاندې د جدي مبارزې خبر ورکړی



په کابل کې د نا امنیو په دوام، افغان حکومت او طالبانو دواړو د ښاریانو د امنیت د تامین په تړاو تبلیغات کړي دي. په ټولنیزو رسنیو کې په کابل ښار کې د نا امنیو او جنایي جرمونو په تړاو تر پر له پسې شکایتونو وروسته وسله والو طالبانو د کابل ښار په ځینو سیمو کې ابلاغیې خپرې کړې او کابل ښاریانو ته یې ډاډ ورکړی چې د دوی وسله وال به د خلکو امنیت تامین کړي. په ټولنیزو رسنیو کې بیا خلکو دا د حکومت لپاره ستر ننگ بللی دی. بلخوا کورنیو چارو وزارت بیا د مجرمینو پر وړاندې د جدي اقداماتو خبر ورکړی دی.

په دې وروستیو ورځو کې د سختو وحشتناکو جنایي پېښو او غلاوو په تړاو د کابل ښاریانو غبږ پورته شو. کابل ښاریانو په ټولنیزو رسنیو کې د پراخ کمپاین له لارې د کابل امنیتي مسوولین بې کفایته وبلل او په خبره یې، دوی په غلاوو او روانو جنایتونو کې په غیر مستقیمه توگه ښکېل دي او کمزوري مدیریت د لسگونو کابل ښاریانو د وژل کېدو سبب شوی دی.

په همدې څو ورځو کې د کابل په بېلابېلو سیمو کې بوږنوونکې جنایي پېښې رامنځته شوې او د یوه مبایل یا څو افغانیو لپاره غلو ښاریان وژلي دي.

پرون شپه د کورنیو چارو سرپرست وزیر مسعود اندرابي امنیتي ناسته رابللې ده او د کابل ښار د امنیت په تړاو یې له دوی سره خبرې کړې دي. د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین وایي، په دې غونډه کې ټینگار شوی چې امنیتي چارواکي دې ژر تر ژره د کابل ښار په وضعیت کې بدلون راولي. د اندرابي په خبره، کابل ښاریان امنیت ته اړتیا لري او امنیتي مسوولینو ته په کار ده چې د دوی د امنیت لپاره اړین اقدامات ترسره کړي. طارق آرین وایي چې اندرابي پولیسو ته د غلو او جنایتکارانو د وژلو امر هم کړی دی. د ده په وینا: ((سرپرست وزیر د کابل له ورودي دروازو لیدنه وکړه، په ښار کې د ننه یې له امنیتي پوستو او حوزو لیدنه وکړه، پولیسو ته یې پر غلو او مجرمینو د برید امر وکړ او ویې ویل، که له پولیسو سره یې مقابله وکړه، نو ختم یې دې کړي)). دا چې د کورنیو چارو وزارت دغه خبرداری به اغېزناک وي کنه، وروسته به معلومه شي، خو دغه وزارت تر دې وړاندې هم د غلو او مجرمینو پر وړاندې د جدي اقداماتو خبر ورکړی و. په کابل ښار کې یې پر موټرسایکلونو تگ راتگ بند کړی و او د حوزو له آمرینو یې د جدي اقداماتو غوښتنه کړې وه.

بلخوا طالبان هم ځان د کابل د امنیت په تامین کې ونډه وال بولي. دوی د کابل ښار د احمد شا بابا مېنې په ځینو برخو کې ابلاغیې خپرې کړې او ویلي یې دي چې د دوی ځانگړې قطعې په کابل ښار کې گرځي او د غلو پر وړاندې به مبارزه کوي. د طالبانو په ابلاغیه کې راځي: ((په کابل ښار کې غله او جنایتکاران ډېر شوي چې د خلکو ژوند یې تریخ کړی دی. موږ به په کابل ښار کې ټول غله، جنایتکاران، انسان تښتوونکي او وېره اچوونکي یا وژنو او یا یې هم نیسو)).

طالبانو تر دې وړاندې د پنځمې حوزې او پغمان ولسوالۍ په ځینو سیمو کې هم ورته اقدامات کړي وو او خلکو ته یې د امنیت د تامین ډاډ ورکړی و. همدا راز یې په غلام حیدرخان کلا کې د کابل ښار پر لویه لار هم د امنیت د تامین ځینې مانورونه کړي وو او ویډیوگانې یې په ټولنیزو رسنیو کې خپرې کړې وې.

بلخوا د ټولنیزو رسنیو کاروونکي بیا د طالبانو ابلاغیه د حکومت لپاره ستر شرم بولي. د دوی په خبره، حکومت په دې بریالی نه شو چې په کابل ښار کې امنیت تامین کړي او اوس دا دی وسله وال طالبان ځان د کابل د امنیت لپاره ژمن بولي او په دې برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکوي.

# له ټاکنو سره همهاله خبرداري؛

## امریکایي سناتوران: که ټرمپ ناکام شو، ښایي په امریکا کې د وینو ویالې وبهېږي

په داسې حال کې چې په امریکا کې ولسمشریزو ټاکنو ته نږدې شل ورځې پاتې دي، خو ورسره سم په دغه هېواد کې له ټاکنو وروسته وضعیت په اړه اندېښنې مخ پر ډېرېدو دي. تازه جمهوري غوښتونکي سناتور ټیډ کروز خبرداری ورکړی چې که په راتلونکو ټاکنو کې ډونالډ ټرمپ ناکام شي، په دغه هېواد کې به د وینو ویالې وبهېږي. نوموړي زیاته کړې، د ده په گډون ټول امریکایان اندېښمن دي، وضعیت په بې‌ساري توگه کړکېچن دی، ځکه هر امریکایي چې وینې، د وضعیت په اړه شکایت کوي او له ټاکنو وېره لري. د ده په خبره، امریکا تر اوسه له داسې وضعیت سره نه ده مخ شوې او په وینا یې، د دې ټولو اندېښنو لامل ډیموکراټان دي چې خلک وېروي او هڅه کوي چې ډېر خلک په ټاکنو کې گډون ونه کړي. کروز څرگنده کړې، دی هیله من دی چې راتلونکې ټاکنې دوی وگټي او که داسې ونه شي، نو په امریکا کې به د واټرگیټ پېښه بیا تکرار شي.

په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو اړیکو شورا په خپل اوږده راپور کې امریکا په کې د کورنیو جگړو په اړه اندېښنه څرگنده کړې ده. په یاد راپور کې راغلي، ښې اړخي د امریکا په راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو کې د گډوډیو په لټه کې دي او دا چاره به د ټاکنو پر مهال وضعیت ډېر پېچلی کړي. په یاد راپور کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې په ټاکنو کې د اخلال مسئله څومره رښتیا ده، ویل شوي چې د ټاکنو پایلې په پراخه کچه گډوډۍ رامنځته کولی شي، ځکه ډېری ښي اړخي ځان تر پایلو مخکې د ټاکنو گټونکي بولي او کله چې یې پایله د تمې خلاف راووځي، نو له هېڅ ډول گډوډیو مخ نه گرځوي. د یادونې ده چې ټرمپ تېره میاشت په نویډا ایالت کې د خپلو پلویانو غونډې ته ویلي، ډیموکراټان یوازې په درغلۍ بریا ته رسېدلی شي، نو پر همدې بنسټ د ده د تمې خلاف پایلې ورته د منلو نه دي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم گڼ شمېر امریکایي چارواکو او سناتورانو د دغه هېواد د راتلونکو ټاکنو په تړاو اندېښنې ښودلې او خبرداری یې ورکړی چې که نوماندان د ټاکنو پایلو ته درناوی ونه کړي، په امریکا کې ښایي کورنۍ جگړه پیل شي.



## د کتــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري
## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل
### وړاندیزونه




**وړاندیزونه**

۱ـ افغانستان باید د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره خپل ظرفیتونه او وړتیاوې زیاتې او لازم مسلکي ظرفیت رامنځته کړي، د بېلګې په توګه د دوه اړخیزو همکاریو په اړه د اعلامیو او تړونونو د لیکلو او ترتیب په برخه کې افغانستان زیاتې ستونزې لري، افغان سیاستوال د سیمه‌ییزې همکارۍ د ارزښت په اړه پوره او بشپړ معلومات نه لري، له همدې امله افغان چارواکو ته باید د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه معلومات او روزنه ورکړل شي .

۲ـ افغانستان باید د شانګهای د همکاریو سازمان، ایکو، سارک او نورو سیمه‌ییزو سازمانونو سره خپلو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي، له شانګهای سازمان سره د همکاریو پراختیا په برخه کې د چین همکاري او له سارک سره د همکاریو پراختیا په برخه کې د هند همکاري ډېره مهمه ګڼل کېږي .

۳ـ د مشترکاتو روښانه کول،د سیمې د هېوادونو د مدني ټولنو غړي، لیکوالان او رهبران باید په مرکزي او جنوبي اسیا کې خپلو حکومتي مشرانو او سیاستوالو ته په ډاګه کړي، چې د دوی لنډمهاله او اوږد مهاله ګټې له یو بل سره تړلي او دوی ګډې اقتصادي ګټې، ګډ تاریخ او ګډ مشترکات لري .

۴ـ افغانستان باید د سیمې له هېوادونو او خپلو ګاونډیانو سره دوه اړخیزو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي، نړیوالې اداري او بنسټونه په دې برخه کې مرسته کولای شي، افغانستان باید د دوه اړخیزو ستونزو حل ته پاملرنه وکړي او د سیمې له هېوادونو سره اقتصادي، سیاسي او امنیتي هماهنګۍ ته پراختیا ورکړي .

۵ـ افغانستان باید هڅه وکړي چې په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د سیمې د سترو قدرتونو او خپلو ګاونډیو هېوادونو ملاتړ ترلاسه کړي،د سولې او ثبات له ټینګښت پرته به د سترو اقتصادي پروژو تطبیق ستونزمن او ان ناممکن وي .

٦ـ د افغانستان او سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه په هېواد کې دننه د علمي او د څېړنې له اصولو سره سم څېړنې او تحقیقات نه دي شوي او یا هم لږ کار شوی، وړاندیز کوم چې په دې اړه څېړنې، لیکنې دوام پیدا کړي، او ان په دې اړه د ځینو علمي او ملي سیمینارونو او کنفرانسونو جوړېدل به ډېر مهم وي .

۷ـ د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ازادې سوداګرۍ او ترانزیټ په تړون سره د هند او مرکزي اسیا هېوادونه هم یو ځای شي او د افغانستان حکومت باید د سیمې له هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزیټ، په ځانګړې توګه دهوایي دهلیزونوپه برخه کې د همکاریو نوي تړونونه لاسلیک کړي .

۸ـ د افغانستان حکومت باید د اورګاډي پټلۍ جوړولوته پاملرنه وکړي، افغانستان باید د اورګاډي پټلۍ په وسیله له مرکزي او جنوبي اسیا سره ونښلول شي، د دې ترڅنګ افغانستان باید د ایران او هند ترمنځ له نوري فایبر سره هم یوځای شي .

۹ـ د سوداګرۍ او ترانسپورت په برخو کې باید اسانتیاوې رامنځته شي د سوداګرۍ د اسانتیا په موخه د میکانیزمونو رامنځته کول، د ګمرکي طرزالعملونو ساده کول، د سوداګرۍ د پروسې ساده کول، د قوانینو اصلاح کول، له ټیکنالوژۍ څخه استفاده کول او بانکي اسانتیاوې رامنځته کول باید د افغانستان د حکومت مهم لومړیتوبونه واوسي .

۱۰- د افغانستان حکومت باید په خپل بهرني سیاست کې اقتصادي ګټو او اهدافو ته لومړیتوب ورکړي او د امنیت محورو سیاستونو له تعقیب څخه ډډه وکړي، پر نړیوالو مرسته باندې خپله تکیه کول راکم کړي، افغانستان باید د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په تړاو فعاله ډیپلوماسي او ښکاره موقف ولري، سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا او له سیمه‌ییزو سازمانونو د همکاریو او اړیکو پیاوړتیا په موخه باید یوه مشخصه تګلار رامنځ ته شي.د دې ترڅنګ افغان حکومت باید له سیمه‌ییزو رقابتونوهم ځان لرې وساتي .

۱۱ـ د افغانستان حکومت باید په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات ټینګښت لپاره په خپل بهرني سیاست کې بدلونونه رامنځته کړي، افغانستان باید مستقل سیمه‌ییز سیاست ولري او د دوه اړخیزو ګټو په چوکاټ کې د سیمې له هېوادونو سره ښې، نږدې او پراخې اړیکې رامنځته کړي .

۱۲- د سیمه‌ییزې همکارۍ د اهمیت، فرصتونو او ستونزو په اړه باید لا ډېر تحقیقات وشي او دغه تحقیقات باید د افغانستان حکومت له اړوندو ادارو سره شریک کړای شي، څو د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه د یوې اغېزمنې سیمه‌ییزې تګلارې په جوړېدو او تطبیق کې ورڅخه ګټه واخیستل شي . **پای**

# دایکنډي

حشمت الله نوري



دایکنډي ولایت د هېواد له مرکزي ولایتونو څخه یو دی، چې ۹ کاله وړاندې د اروزګان ولایت یوه ولسوالي وه. دا ولایت د کابل لوېدیځ ته په ٤٦٠ کیلومترۍ کې پروت دی، په سوېل- لوېدیځ کې له اروزګان، په ختیځ کې له بامیانو، په شمال کې له غور، په سوېل کې له غزني او په شمال- لوېدیځ کې له هلمند ولایت سره ګډه پوله لري او دغه ولایت د سمندر له سطحې څخه ۲٤۰۰ متره لوړوالی لري.

دا ولایت چې له ۲۲ زرو کیلومترو څخه زیات پراخوالی او ۷۲۹ زره اټکلي نفوس لري، د لوړو غونډیو، غرونو، شنو جلګو، یخې او ګرمې هوا په درلودو سره د هېواد یو وروسته پاتې ولایت ګڼل کېږي، چې د واورو د سخت ورښت له امله یې نښلوونکې لارې په کال کې شپږ میاشتې د خلکو پر مخ تړلې وي.

نیلي ښار د دې ولایت مرکز دی، چې نږدې ۱٥٦ کلي او ۹٥ زره نفوس لري او پراخوالی یې ۷۸۰ کیلومتره مربع دی.

**ولسوالۍ**

دایکنډي د اداري سیستم له اړخه پر ۹ اداري واحدونو وېشل شوی، چې ولسوالۍ یې له خدیر، شهرستان، میرامور، اشترلي، سنګ تخت وبندر، کیتي، کجران او ګیزاب څخه عبارت دي.

د دې ولایت استوګن له هزاره، پښتنو او بلوڅو څخه تشکیل شوي، چې له ۲۸۰۰ څخه زیات کلي په کې اباد دي، خو د هزاره قوم شمېره په کې زیاته ده.

**د اوبو بندونه**

په دغه ولایت کې هېڅ کوم د اوبو بند نشته، خو د هلمند، لذیر او تج په نامه درې سیندونه ورڅخه تېرېږي، چې د اوبو د بندونو لپاره ښه ظرفیت لري.

دا چې دایکنډي ولایت په یوه غرنیزه سیمه کې پروت دی، نو له همدې امله تر اوسه په کې د اوبیزو بندونو جوړولو لپاره کوم اقدام نه دی شوی.

**کلتور**

په دغه ولایت کې ډېرې سیمه ییزې لوبې لکه نیزه بازي، اس ځغلونه، ملي اتڼ، پخته چیني، د نرانو او ښځو په برخه کې سیمه ییزې نڅاوې او د پیشپو په نامه لوبې دود دي.

پیشپو یوه دودیزه لوبه ده، چې د ښځو او نجونو لخوا تر ډېره په ډله ییز ډول تر سره کېږي او ملي اتڼ ته ورته ده. دا لوبه یې یو ډول پخوانۍ محلي نڅا ده، چې د هزاره جات په مرکزي سیمو کې دود وه. دا لوبه د محلي شعرونو له ویلو سره په ودونو کې اجرا کېږي.

د دایکنډي خلک خپلې ملي او مذهبي ورځې نمانځي او د اخترونو یا نوي کال په ورځو کې د یو بل کورونو ته ورځي.

د بادام ګل جشن هم د دغه ولایت له فرهنګي مراسمو څخه دی، چې هر کال د سلګونو کسانو لخوا چې بڼوال، فرهنګیان او سیمه ییز چارواکي په کې وي، نمانځل کېږي.

**تاریخي ابدات**

په دایکنډي ولایت کې تاریخي ابدات نشته، خو د نیلي- شهرستان او میرامور په اوږدو کې څو پیاوړې کلاګانې شته، چې سلګونه کاله لرغونتوب لري، دا کلاګانې د کاروان سرایونو په نامه یادېږي او ښه بڼه لري.

ځینې اثار یې د خاورو له منځه هم پیدا شوي. د ۱۳۹۲ لمریز کال په لومړیو کې د اسلامي دورې په لسګونه قلمه مسکوکات د سنګ تخت ولسوالۍ له شیخ علي سیمې څخه هغه مهال تر لاسه شول، چې عام خلک د سړک پر جوړولو بوخت وو.

په دغو اثارو کې ۲۰۰ سکې، د نقرې درې ګوتې، د سرو زرو دوې ګوتې، د زمردو او مرجانو درې ټوټې شاملې وې چې ټول وزن یې ٦٦۰ ګرامه کېده او په یوه کوزه کې ځای پر ځای شوې وې.

په یوه سیکه باندې د( لا اله الاالله) کلمه هم لیکل شوې ده.

**موزیم**

په دغه ولایت کې نه موزیم شته او نه هم د ساتلو لپاره تاریخي اثار، که کله په کې کوم نیم تاریخي اثر له خاورو تر لاسه شي، نو کابل ته یې ملي موزیم ته استوي.

**مشاهیر**

دایکنډي ولایت د ډېرو مشاهیرو کور دی، چې له دې ډلې د ابراهیم ګاوسوار، محمد عظیم خان اشکار اباد، ملا خداداد، محمد حسین صادقي، میر یوسف بیګ، نعیم خان، محمد کاظم افکاري، پهلوان نجف بیک او پیاوړي شاعر شاه ناطق سید حلیم شاه کجران نوم اخیستلی شو.

له دې ډلې هر یوه د خلکو په خدمت کې وخت تېر کړی او د دوی په منځ کې یې نېک نومونه خپل کړي دي.

د شهرستان ولسوالۍ نظامي، د میرامور محمد جان جوادي او د اشترلي ولسوالۍ حاجي محمد رحماني د دغه ولایت مشهور معاصر شاعران دي، چې د غزل، رباعي او حماسي شعرونو په برخه کې یې شاعري کړې ده.

**رسنۍ**

په دغه ولایت کې د رسنیو او مدني ټولنو شتون خورا پیکه دی. د ملي راډیو- ټلویزیون تر څنګ دوې سیمه ییزې راډیوګانې په کې ځنډنۍ خپرونې لري، چې د خپرنیز پوښښ ساحه یې یوازې تر نیلي بازار او شاوخوا سیمو پورې محدوده ده.

په چاپي خپرونو کې یې تر اوسه یوازې د ندای دایکنډي مهالنۍ دوې ګڼې، د اسمان دایکنډي مهالنۍ یوه ګڼه او د نسخه خطي په نامه اونیزې دوې ګڼې خپرې شوې دي. مطبعه، کتابپلورنځی، خبري رسنۍ او د ډله ییزو اړیکو وسیلې او مدني بنسټونه په کې کمرنګه دي.

په وروستیو کلونو کې لسګونو مدني او ټولنیزو بنسټونو په دې ولایت کې فعالیت پیل کړی، خو تر اوسه یې هم خپل ځای نه دی موندلی.

**پوهنه**

په دې ولایت کې د یوه خصوصي پوهنتون تر څنګ، څلور شپنۍ لېسې، پنځه د کرنې او حسابدارۍ انسټېټیوټونه او د ۱۹۰ لېسو په ګډون، ۳۳۹ منځنې او لومړنې ښوونځې فعالیت لري.

د زده کوونکو شمېر یې ۱۷۱ زره تنه دی او څلور زره نور یې په پوهنتونونو او انسټېټیوټونو کې زده کړې کوي، چې ٤٤ سلنه یې نجونې دي.

د پوهنې په برخه کې یې له څلورو سوو زیات ښوونکي او د پوهنې کارکوونکي خدمت کوي.

**صنعت**

په دغه ولایت کې د خامک دوزۍ، ګلدوزۍ، غالۍ اوبدنې، ټغر اوبدنې او خورجینونو جوړولو په څېر لاسي صنایع فعال دي، چې ډېره برخه یې د ښځو لخوا چمتو کېږي.

د دایکنډي اوسېدونکي د پسونو د وړیو په رسېدو ټغر او غالۍ جوړوي او بیا یې د پلور لپاره بازار ته وړاندې کوي.

په دې وروستیو کې له کابل څخه هم د غالۍ اوبدنې ځینې مواد (نخ) دغه ولایت ته رسېدلي، چې د غالۍ اوبدنې سیمه ییز ډول یې اغېزمن کړی او اوسېدونکو یې د عصري قالینو جوړولو ته مخه کړې ده.

**کرنه**

د دایکنډي د خلکو اقتصاد پر کرنه او مالدارۍ ولاړ دی، چې د دې ولایت له ۹۰ سلنې زیات وګړي یې بوخت کړي دي.

غنم، وربشې، جوار، بادام او زردالو یې له عمده محصولاتو څخه شمېرل کېږي. د دې ولایت بادام له ځانګړې شهرت څخه برخمن دي او په سلګونو بڼوال له دې لارې د خپل ژوند اړتیاوې پوره کوي.

تېر کال یې د بادامو محصولات ۷٥۰۰ ټنو ته رسېدل، خو د کرنې د برخې چارواکي یې وړاندوینه کوي، چې د کمو اورښتونو او اوبو د کمښت له امله به په دې اندازه کې د پام وړ کمښت راشي.

د بادامو باغونه عموماً د دغه ولایت په مرکز، شهرستان او میرامور ولسوالیو کې دي، چې د کفمل، کاغدي، ستاربایي او سنګک په نامه یادېږي او د حاصل ټولولو وخت یې منی دی.

سره له دې چې په دې ولایت کې غنم هم کرل کېږي، خو خلکو ته بسنه نه کوي او خپل خوراکي توکي لکه وریجې، غوړ، لوبیا، نخود او مۍ د کابل او غزني له بازارونو څخه تر لاسه کوي.

**لوبې**

په دایکنډي ولایت کې له ۲زرو څخه زیات ورزشکاران شته، چې د فوټبال، والیبال، شطرنج، منډې، د بدن ښکلا او رزمي ورزشونو په برخه کې فعالیت کوي. رزمي ورزشونه یې له کانګفو، موتای، نیوفول، کانتک او تکواندو څخه عبارت دي.

هغه ښځې او نجونې چې د فوټبال، منډې او شطرنج په برخه کې یې ورزش ته مخه کړې، ۸۰ تنه کېږي.

سره له دې چې ۱۰ خصوصي ورزشي کلپونه په دې ولایت کې فعالیت لري، خو په عمومي ډول د والیبال او فوټبال لپاره د جمنازیمونو لپاره امکانات نشته، چې ورزشکارانو ته یې ستونزې زېږولې دي.

همیانۍ

# د ژوند په لوبه کې د بریالي کېدو رازونه

ژباړه: حمیدالله حمیدي

لومړنی کار چې د ژوند د لوبې گټونکي یې تر سره کوي دا دی، چې د خپل ژوند د موخې په اړه لږ تر لږه د اوسنیو کړنو او کوچنیو موخو په اړه پرېکړه کوي او په اړه یې پوهه لري. په زړه کې وایي: «زه نه پوهېږم چې د ژوند وروستۍ موخه مې څه ده، خو اجازه راکړئ چې د ژوند د اوسنۍ موخې په اړه مې پرېکړه وکړم. اوسنۍ موخه مې له نورو سره مینه درلودل، د نورو لخوا له ما سره مینه کېدل، وده او تکامل، بدلون او تغیر، د دغه او یا هغه کار تر سره کول... ده.» او په دې ترتیب د ځان لپاره موخې ټاکي.

له تاسو څخه غواړم څو د خپل ژوند د موخې او هغه رسالت لپاره چې ستاسو پر غاړه دی، شعار وټاکئ. تاسو باید موخه ولرئ، که چېرې بې موخې و اوسی او ونه پوهېږی چې د ژوند د لوبې موخه مو څه ده، هېڅکله به پوه نه شی چې څه باید تر سره کړی. دا هغه موکه او فرصت دی چې موږ ټول یې په مخکې لرو، خو ډېری کسان د ژوند موکو او فرصتونو ته ارزښت نه ورکوي.

د ژوند له لویو مسایلو څخه یو هم د دې په اړه پرېکړه کول او ټاکل دي چې غواړی خپل وخت او انرژي پر څه باندې ولگوی. د واضح او روښانه موخې درلودل له تاسو سره مرسته کوي څو خپل کارونه په سمه او اصولي توگه سرته ورسوی.

**په لږ کچه قوانین او قیودات**

د ژوند د لوبې د گټونکو دویمه ځانگړتیا یا د بریا راز دا دی، چې د ځان لپاره په لږ کچه قوانین او قیودات لري. د بېلگې په توگه، په دې اړه قوانین چې خلک باید څه ډول چلند وکړي، ژوند مو باید په څه ډول پر مخ ولاړ شي څو تاسو د نېکمرغۍ احساس وکړی، څه ډول کارونه تر سره کړی او... په همغه اندازه به په لږه کچه د نېکمرغۍ او بریا خوند وگوری. نېکمرغه کسان هغه دي چې هره ورځ غوره او نېکمرغه ورځ وبولي او خپله خوښي په یوه کوچنۍ موسکا او کوچنیو پېښو کې لټوي. که چېرې مو وکولای شول چې له همدې ډول کوچنیو شیانو څخه خوند واخلی، د ژوند ټول لوی مسایل به ستاسو لپاره د نېکمرغۍ، بریا او خوښۍ پر انگېزو بدل شي. نو پر دې اساس، هر کله مو چې ځان د نورو پر چلند باندې غوسه او د تریو تندي په حالت کې ولید، له ځنډ پرته له دې حالت څخه لاس واخلئ او له ځانه وپوښتئ: «زما د دغه غبرگون او حالت ارزښت په رښتیا څه دی؟»، «ایا د مقابل لوري چلند تر دې حده بد دی څو زه داسې یو غبرگون غوره کړم؟»، «ایا ستونزه لري چې هغه کس له ما سره خلاف فکر، نظر او احساسات ولري؟» که چېرې دا باور لری چې نور باید ستاسو د قوانینو اړوند ژوند وکړي، مانا یې دا ده چې تل د ځان د ناراحتۍ لپاره یو لامل لری. نو له ځان څخه د یادو پوښتنو په مطرح کولو سره کولای شی له دې ټولو ناراحتیو څخه ځان وژغوری او په لږ کچه درد وزغمی.

**یو موټی قوانین**

د ژوند د لوبې د گټونکو دریېمه گډه ځانگړتیا دا ده چې هغوی خپل ټول قوانین او قیودات یو موټی کړي دي، د خپل ژوند پر وړاندې تضادونه او مخالفتونه یې پېژندلي او له پېژندلو وروسته یې د هغوی د له منځه وړلو لپاره له ځان او نورو سره رښتیني او صادق پاتې شوي دي. هغوی په زړه کې وایي: «دغه مخالفتونه زما له باورونو سره په ټکر کې دي او زه نه غواړم چې خپل ژوند مې د دغو تضادونو او مخالفتونو تر سیوري لاندې تېر کړم.»

**د خپل ځان درناوی او ستاینه کول**

څلورم کار چې د ژوند د ستونزمنې لوبې گټونکي یې تر سره کوي، دا دی چې کله هم گټونکي کېږي، خپل ځان ته د ارزښت وړ بدل ورکوي او د خپل ځان ستاینه او تقدیر کوي. دغه کړنه ډېره غوره او حیاتي ده. باید پوه شئ سره له دې چې ټول کارونه په ښه توگه سرته رسوی، کېدای شي ستاسو ستاینه ونه شي، ښه، دا کومه لویه ستونزه نه ده! په خپله د ځان ستاینه او تقدیر وکړئ. د غوره کارونو د تر سره کولو پر مهال په خپله خپل لاسنیوی وکړئ او خپل ځان ته داسې بدل ډالۍ کړئ چې وړ یې یاست.

کله چې څوک ستاسو ستاینه کوي او ستاسو په وجود کې غوره احساس رامنځ ته کېږي، ستاسو غوره احساس د مقابل لوري د ستاینې له امله نه دی، بلکې کله چې هغه تاسو ته «افرین» وایي او ستاینه مو کوي، له منفي کړنو او افکارو لاس اخلی او له ځان سره فکر کوی: «آه، د دې خبرې مانا دا ده چې زه باید ښه احساس ولرم.» هغه مهال ستاسو مغز داسې پیغام وړونکي تولیدوي چې ستاسو په وجود کې د خوند او خوښۍ د احساس د رامنځ ته کېدو لامل کېږي. نو چې داسې ده، ولې په خپله په ځان کې دا ډول خوند او خوښي رامنځ ته نه کړی څو د تل لپاره وکولای شی خپل غوره چلند او لوړو ارزښتونو ته پیاوړتیا او تقویت ورکړی؟

**په داوطلبانه ډول د درد رامنځ ته کول**

د بریالیو کسانو پنځمه گډه ځانگړتیا دا ده چې کله کوم گل ته اوبه ورکوي او تېروتنه کوي او یا هم خپل ارزښتونه تر پښو لاندې کوي او له خپلو موخو څخه لرې کېږي، خپل ځان ته په داوطلبانه ډول درد او سزا رامنځ ته کوي او دې ته اجازه نه ورکوي څو د شاوخوا خلکو او چاپېریال لخوا دغه درد ورباندې تحمیل شي. له همدې امله هغوی تل په سم او مناسب مسیر باندې حرکت کوي.

**د نورو د قوانینو پېژندل**

د ژوند د لوبې د گټونکو شپږمه گډه ځانگړتیا دا ده چې پر دې پوهېږي چې هر څوک له خپلو بېلو قوانینو سره ژوند کوي. له همدې امله کله چې له داسې چا سره مخ کېږي چې په یو کار کې د بریالي کېدو لپاره د دوی مرستې ته اړتیا لري، هڅه کوي څو د هغوی قوانین کشف کړي او ځان پرې پوه کړي. ځکه که چېرې له هغه څه څخه پوهه او خبر ولرو چې د نورو لپاره ارزښت لري او د هغوی «باید» او «نه باید» وپېژنو، له هغوی سره مرسته او همکاري کول ډېر اسانه کېږي.

**هر کار او کړنه اسانه بلل**

او په پای کې دا چې گټونکي سره له دې چې پوهېږي چې ژوند له موخو ډک دی او باید موخې ولرو، خو بیا هم ژوند دومره جدي نه نیسي چې یوازې په خپلو چارو بوخت و اوسي، ټولنیزې اړیکې، د خپلوانو پوښتنه کول او خپله خندا او خوشالي له یاده وباسي. همغه ده چې ځان تر دې حده د فشار او سټرس تر پېټي لاندې نه راولي. هغه پند لرونکې مقوله چې وایي: «ببره نه ده پکار. هر څه شوني دي، خو یوازې حرکت او لاس پکار کېدو ته اړتیا لري» دا مقوله تل د دغو بریالیو کسانو د غوږ د پاسه ځرېږي.

## مشرانو جرگه: حکومتي چارواکي د غفلت او ناغېړۍ له کبله د جنايي جرمونو په مخنيوي کې پاتې راغلي

مشرانو جرگه وايي، د کابل ښار د امنيتي وضعيت په اړه له ولسمشر او امنيتي بنسټونو سره خپلې اندېښنې شريکوي، څو له ناامنيو د مخنيوي لپاره لازم اقدامات ترسره شي.



دا په داسې حال کې ده چې د هرې ورځې په تېرېدو په کابل ښار کې د جنايي جرمونو شمېر مخ پر ډېرېدو دی او په وروستۍ قضيه کې څو ورځې وړاندې ناپېژاندو وسله والو له کابل ښاره د جمهوريت روغتون يو ډاکټر تښتولی دی.

د يادونې ده چې د ټليفونونو، مالونو او وسايلو غلا تر دې کچې لوړه شوې چې په دې وروستيو کې د ټولنيزو رسنيو کاروونکو د «کابل خوندي نه دی» تر نامه لاندې کمپاين پيل کړی، څو امنيتي چارواکي د ښار امنيت ته پاملرنه وکړي.

د مشرانو جرگې غړي مصطفی ظاهر د يادې جرگې د تېرې ورځې په غونډه کې وويل چې په کابل کې هېڅوک خوندي نه دي او هره ورځ يو شمېر ځوانان د ټليفون او موټر پر سر وژل کيږي. هغه زياته کړه چې چارواکي غفلت کوي او د جنايي جرمونو په مخنيوي کې پاتې راغلي دي.

د مشرانو جرگې لومړي نايب محمد علم ايزديار هم وويل چې د هرې ورځې په تېرېدو سره د کابل امنيتي وضعيت خرابېږي او په ښار کې جنايي جرمونه اوج ته رسېدلي دي. هغه په هېواد کې د جنايي پېښو عاملينو ته د جزا ورکولو د ټينگار ترڅنگ وويل: «که له مجرمينو سره جدي چلند وشي، جرمونه به کم شي.»

بلخوا د مشرانو جرگې رييس فضل هادي مسلم يار د ناامنيو د ډېرېدو په تړاو د اندېښنو په اړه وويل: «زه ستاسو اندېښنه شخصاً ولسمشر ته رسوم او په ليکلي بڼه يې د کورنيو چارو له وزارت او ملي امنيت رياست سره هم شريکوم، څو په دې اړه اقدامات ترسره شي.»

د هغه په وينا، دغې جرگې تېره اونۍ هم د ناامنيو په تړاو امنيتي چارواکي د رييسانو کمېټې ته ورغوښتي وو او که اړتيا وه، نو بيا يې هم ور غواړي څو په دې تړاو د جرگې غړو ته ځواب ووايي.

## امريکايي ځواکونه: ځينې پوځي اډې او نظامي تجهيزات افغان پوځ ته سپارو

په افغانستان کې مېشت امريکايي ځواکونه وايي چې خپلې پوځي اډې او ځينې نظامي وسايل او تجهيزات افغان ځواکونو ته سپاري. امريکايي ځواکونه داسې دغه څرگندونې کوي چې په دې وروستيو کې په ټولنيزو شبکو او ځينو رسنيو داسې خبرونه خپاره شول چې گواکې امريکايي ځواکونه هغه پوځي مرکزونه او اډې ويجاړوي چې له طالبانو سره د تړون له مخې ترې وځي.



خو په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو وياند ډگروال سوني لگيټ ويلي چې امريکايي ځواکونه له افغان ملي امنيتي ځواکونو سره په گډه له نږدې په همغږۍ سره کار کوي.

هغه زياته کړې چې د همدې همغږۍ له مخې، دوی غواړي په مسووليت سره خپل پوځي مرکزونه چې له دې وروسته د امريکايي ځواکونو له خوا نه کارول کېږي، افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

نوموړي ويلي: «په افغانستان کې مېشت امريکايي ځواکونه له افغان ملي دفاعي ځواکونو سره د روزنې، مشورې او همکارۍ په برخو کې مرستو ته ژمن دي.»

ډگروال سوني لگيټ زياته کړې چې دغه راز دوی له افغان ځواکونو سره مالي همکاري او له طالبانو سره د شوي تړون په رڼا کې د اړتيا پر مهال دفاعي همکاري هم ورسره کوي.

د هغه په وينا، په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د وتلو پروسې له مخې، دوی خپل ځينې نظامي وسايل او تجهيزات افغان ځواکونو ته سپاري او نور يې خپل هېواد ته لېږدوي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې په ټولنيزو شبکو کې داسې انځورونه خپاره شوي چې امريکايي ځواکونه نظامي تجهيزات په ټېلرو کې پاکستان ته لېږدوي او دغه راز خپلې نظامي اډې ويجاړوي، خو په کابل کې د ناټو يو سرچينې پژواک ته ويلي چې دا نظامي توکي د پاکستان د بندرونو له لارې اړوندو هېوادونو ته لېږدول کېږي.

د يادونې ده، د ۱۳۹۸ لمريز کال د کب په ۱۰مه، د امريکا او طالبانو ترمنځ په قطر کې د ځواکونو د ويستلو تړون لاسليک شو. د دغه تړون له مخې، د ۲۰۲۱ زېږديز کال تر مې مياشتې پورې بايد له افغانستانه ټول امريکايي ځواکونه ووځي. د امريکا د دفاع وزارت ويلي چې تېر کال يې په افغانستان کې د ځواکونو شمېر ۱۲ زره و، د تړون له مخې، اوس پنځو زرو ته راټيټ شوی او نور به هم کم شي. بلخوا د امريکا د ملي امنيت سلاکار ويلي چې د روان زېږديز کال تر پايه پورې به دغه شمېر دوو زرو ته ټيټ شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۹۰ |
| € | ۸۹،۹۰ |
| Rp. | ۴۷۳ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۵۰ |
| £ | ۹۸،۷۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۲مه | ۶۰۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۳۱ | ۲۱ | ۲۰ | ۳۰ | ۲۷ |
| ۸ | ۱٤ | ۵ | ۸ | ۱۷ | ۱٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۳ | لمر ختل ۰۵:۵۵ | ماسپښین ۱۱:٤۱ | مازیګر ۰۲:۵۷ | ماښام ۰۵:۲۹ | ماخوستن ۰٦:٤۹

## نړۍ




## وانګ يي: بيجېنګ غواړي چې له ايران سره په بېلابېلو برخو کې خپلې همکارۍ پياوړې کړي



د چين د بهرنيو چارو وزير وانګ يي د ايران د بهرنيو چارو له وزير محمد جواد ظريف سره د چين د يون نان په تنګ چونګ ښار کې کې کتلي دي.

وانګ يي ويلي، چې نړۍ د بدلونونو شاهده ده، خو تر څنګ يې له يو لړ جدي ستونزو او ننګونو سره هم مخ ده. هغه زياته کړې، چې نړيوالې ټولنې ته تر بل هر وخت ډېر مسووليت متوجه دی چې نړيوال عدالت تامين او ګډې همکارۍ پياوړې کړي. هغه چين او ايران دوه ستراتېژيک شريکان بللي دي. د وانګ يي په خبره، بيجېنګ غواړي له ايران سره په بېلابېلو برخو کې خپلې همکارۍ پياوړې کړي او تر څنګ يې له پرمختللو هېوادونو سره يو ځای د نړيوال عدالت او د هېوادونو د ګډو ګټو لپاره کار وکړي.

وانګ يي ويلي، چې هېواد يې د ايران د اتومي تړون ارزښت ساتلو ته ژمن دی او دغه ژمنتيا په دې مانا ده چې دوی د ملګرو ملتونو ټول قوانين عملي کوي او د هغه تړونونو ملاتړ کوي، چې هغه د سيمې او ټولې نړۍ په ګټه وي.

په ورته وخت کې د ايران د بهرنيو چارو وزير جواد ظريف د کووېډ-۱۹ وبا پر ضد د مبارزې او کنټرول په برخه کې د چين د تر لاسه شويو سترو برياوو په مناسبت دغه هېواد ته مبارکي ويلې ده. ايران دغه راز د خپل هېواد د اټومي مسئلې په هکله د هر اړخيز تړون د ساتلو په برخه کې د چين د مهم رول ستاينه کړې ده.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې ۳۷ ميليونه او ۵۷۹ زره او ۳٦ ته رسېدلي

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس د مثبتو پېښو شمېر ۳۷ ميليونه او ۵۷۹ زره او ۳٦ ته رسېدلی دی. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې دمه يو ميليون او ۷۸ زره او ۸٤٤ کسان مړه شوي او له ۲۸ ميليونو ډېر تري ببرته رغېدلي دي.

د يادو شمېرو پر اساس، د امريکا متحده ايالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د ياد ويروس مثبتې پېښې اووه ميليونه او ۹۵۳ زره او ۱۷۳ ته رسېدلي او ۲۱۹ زره او ۳۱۵ نور امريکايان يې مړه کړي دي.

له امريکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه ميليونه او ٦۳ زره او ۹۵۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د پنځه ميليونه او ۹۱ زره او ۸۴۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دريم، روسيه د يو ميليون او ۲۹۸ زره او ۷۱۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او کولمبيا د ۹۰۲ زره او ۷۴۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ويروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

هسپانيا، ارجنټاين، پېرو، مکسيکو او فرانسه په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## وزارت مالیه: برای اولین بار همه رئیسان گمرک‌های کشور را از طریق رقابت آزاد استخدام می شوند




وزارت مالیه افغانستان برای اولین بار همه رئیسان گمرک‌های کشور را از طریق رقابت آزاد استخدام می‌کند.

شمروزخان مسجدی سخنگوی این وزارت به رادیو آزادی گفته است که وزارت مالیه تلاش می‌کند فرایند استخدام آن‌ها شفاف و مبتنی بر شایسته‌سالاری باشد.

وی افزوده است: «برای اولین بار در تاریخ وزارت مالیه ریاست‌های گمرکات به رقابت آزاد گذاشته شده است. وزارت مالیه تعهد را که کرده بود به اساس همان تمام بست‌ها که عوایدی باشد یا غیر عواید تمام آن به رقابت آزاد داده می‌شود تا افراد شایسته به آن گماشته شوند.»


به گفته مقام‌های وزارت مالیه، پست رئیسان گمرک‌های کابل، کندهار، ننگرهار، خوست، نیمروز، فراه، آقینه و هرات دیروز (یکشنبه) برای رقابت متقاضیان اعلام شده است.

این در حالیست که پیش از این ادعای فساد در روند استخدام مسئولان گمرک‌ها بارها مطرح شده و حتی گفته شده بود که پست ریاست در گمرک‌ها فروخته می‌شود.

در عین حال هنوز هم ادعاهای زیادی مبنی بر فساد گسترده در گمرک ها وجود دارد و بخش بزرگ عایدات این گمرک های به جیب های شخصی میرود، اما حکومت می گوید که تلاش میکند تا از طریق یک پروسه شفاف کارمندان جدیدی را به گمرک های کشور معرفی کند.


## ژوند

## کوچنيو لګښتونو ته په کمه سترګه مه ګورئ



موږ او تاسو د ورځې په اوږدو کې ځينې کوچني لګښتونه لرو چې په کمه سترګه ورته ګورو، خو که د مياشتې په پای کې دغه کوچني لګښتونه سره جمع کړو، ډېرې پيسې کېږي. ځينې وخت موږ په داسې شيانو پيسې ورکوو چې پکار مو نه وي، يا په هوټل کې له خپلې اشتها او اړتيا څخه ډېر خواړه را غواړو. کله چې رسټورانټ ته ځو، د بېلابېلو خوړو نومونه اورو، فرمايش يې ورکوو او د خوړو لپاره يې را غواړو. موږ د دې خوړو په راغوښتلو کې افراط کوو، دومره خواړه راوړو چې را څخه پاتې کېږي. موږ ډېرې وخت په ورځني ژوند کې ډېر داسې کارونه تر سره کوو چې کوچني راته ښکاري، خو له مالي اړخه يې پايلې زموږ پر زيان وي. له پورتنيو مواردو پرته ډېر نور داسې شيان هم شته چې هېڅ مو ورته پام نه وي، ډېر وروسته مو بيا پام کېږي چې له خپلو پيسو سره مو څومره بې پروايي کړې ده.

## مايکروسافټ زده کوونکو ته مناسب لپټاپ وړاندې کړ



د ۲۰۲۰ کال له پيل راهيسې د کرونا نړيوالې وبا له امله ډېرو هېوادونو کې زده کړه په انلاين توګه پرمخ وړل کېږي، چې له همدې امله نړيوالو بازارونو کې د ارزان بيه لپټاپونو تقاضا زياته شوې ده. مايکروسافټ کمپنۍ د زده کوونکو د دې اړتيا په پام کې نيولو سره د سرفېس ګو (Surface Go) په نوم خپل غوره ځانګړني او ټيټه بيه لرونکی لپټاپ خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه لپټاپ کې ۱۲،۴ انچه پکسل سېنس او ټچ وړتيا لرونکې مخپاڼه او د اېنټل کمپنۍ لسم جنرېشن کور ای۵ (Core i5) پروسېسر ورکړل شوی دی. سرفېس ګو ۱٦ ګېګابايټ رم او ۲۳٦ ګېګابايټ د فايل ثبتونې وړتيا لري او مايکروسافټ کمپنۍ ادعا کوي چې په يو ځل چارج سره تر ۱۳ ساعتونو پورې د کارولو وړ دی. پر دې سربېره، ۷۲۰ پکسله کامره، اومني سونېک ډوله لاوډ سپيکرونه او واي فای٦ په څېر غوره ځانګړني هم د دغه لپټاپ برخه دي. د سرفېس ګو بيه ۵۴۹ امريکايي ډالره ټاکل شوې او تر ټولو وړاندې به په امريکا کې خرڅلاو ته وړاندې شي.

عزيزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزيزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومتريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ ليدل، د صرافۍ خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې وېستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کريډيټ زياتول، د بل ادراينه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

